دویمه برخه

# مولانا فضل محمود مخفي

فضل زمان شلمان / ترجمه: شهباز محمد

په کال **1924** کښې مخفي صېب په دير کښې اړے ګړے جوړ کړو. د ملاکنډ، دير، سوات او چترال د هاغه وخت پولټيکل ايجنټ په دويشتمه جنورۍ کال **1924** کښې د پښتونخوا د چيف سکتر په نوم په خپل خط کښې داسې ليکي:

" په دير او باجوړ کښې د غېر اطمينان بخش حالاتو زياتېدو متعلق او د پېرنګي خلاف د مخفي صېب او نورو د شرانګېزه پروپېګنډې متعلق دا زهر اوس په دير کښې خوارۀ شو. مخفي صېب او د هغۀ د نزدې ملګرو مليانو په وعظونو کښې هغه واړه خلق کافر مشهورولے شي څوک چې د حکومت نوکري کوي او يو څو مصدقه واقعات هم داسې شوي دي چې په دير کښې څو لېوي والا مړو په اسلامي طريقه جنازې نۀ دي کړې شوې او د هغوي سره په هر قسمه تعلقاتو ساتلو مکمله پابندي لګېدلې ده. د پېرنګي سره د نوکرۍ خلاف او د لېوي د سپايانو په اسلامي طريقه نۀ ښخول واړه د مخفي او د هغۀ د ملګرو د ښکاره باره وعظونو اثر دے. زما په خيال د دغه غېر يقيني حالاتو واحد حل دا دے چې د دې رپورټ د وصولۍ سره په يوه هفته کښې دننه دننه دې مخفي صېب او د هغۀ کسان د دير د علاقې نه ووېستے شي. نۀ دوي او نۀ د دوي په شان تحريکونو والا له دې دا اجازت ورکړے شي چې دوي دې په راتلونکي وخت کښې هم چرې دير ته داخل شي. په دې هداياتو د عمل نۀ کولو په صورت کښې دې د نواب دير واړه مراعات ودرولے شي.[43]

د دې خط په بنياد چيف کمشنر ايچ، اين بولټن، نواب دير ته په دوويشتم مارچ کال **1924** کښې په خپل يو خط کښې داسې ليکي:

"وينئ شه! زما دوسته! پاڅه خپله دوستي ښکاره کړو. مخفي او ټول هغه خلق چې د دۀ په شان د دغه تحريک سره منسلک دي، د خپلې علاقې نه وباسه" [44]

په دېرشم مارچ کال **1924** ورله نواب واپسي جواب داسې ورکوي:

"تاسو ليکلي دي چې په مخفي صېب او د هغۀ په ملګرو دير ته په داخلېدو قدغن ولګوم. نو صېب! هغه خو ما ډېر مخکښې منع کړے دے او اوس مې يو نوے حکم هم وکړو هغه به بيا چرې هم دير ته نۀ راننوځي"[45]

او دغه رنګ نواب دير مخفي صېب ونيوۀ او د پېرنګي حکومت ته ئې حواله کړو. د راخلاصېدو نه پس دے باجوړ ته واپس شو او خپلې سرګرمۍ ئې جاري وساتلې. هم دغه وخت ؤ چې د افغانستان د امير امان الله خان خلاف سازشونه شروع شو. مخفي صېب چې خطره محسوس کړه نو کابل ته لاړو خو وخت تېر ؤ. حبيب الله چې په بچه سقه شهرت لري او سېد حسن کابل نيولے ؤ او امان الله خان ئې په ملک پرېښودو مجبور کړے ؤ.

په کال 1929 کښې نادرخان د فرانس نه راغے. کابل ئې واخست او د امیر خطاب ئې اختيار کړو[46]. دغه حالات وو چې د مخفي صېب زړۀ مات شو، واپس خپل کلي ډنډ باجوړ ته راغے او د سياسي حالاتو د معلومولو او صلاح مشورې دپاره اشنغر ته لاړو. د مخفي صاحب او نورو تجربه کارو سياستدانانو په مشوره باچا خان په کال 1930 کښې د خدائي خدمتګار بنياد کېښود. د خان عبدالولي خان په قول باچا خان چې د حج نه واپس شو او د مشرق وسطي دوره ئې وکړه نو د ملګرو د صلاح مشورې نه پس ئې يوه افغان جرګه په کال 1927 کښې راوبلله[47] د احمد کاکا په قول باچا خان د داسې انجمن سوچ کولو.

مخفي صېب د باچا خان دغه تمنا په خپل شعر کښې داسې بيانوي[48]:

زۀ د قوم په غم ژوندے يم دغه غم مې په زړۀ تل وي
په ځيګر سوے له دې يم سر کښې اور مې دې نۀ بل وي
په باجوړ کښې مولوي مخفي صاحب په تعليم خورولو کښې مصروف ؤ او د پېرنګي په خلاف پروپېګنډه ئې ډېره په جوش او جذبه کوله. اشنغر ته په ډېرو تلو راتلو او د باچاخان سره په تعلق لرلو، دے په باجوړ کښې په مولوي مخفي اشنغري پېژندے شو.[49]

امير نادرخان څو ځله فضل محمود مخفي صېب افغانستان ته غوښتے ؤ. په کال 1931 کښې کابل ته تلے ؤ[50] دۀ د نادر خان سره د افغانستان په حالاتو او په هند کښې د پېرنګي حکومت په حقله بحث وکړو او هغۀ له ئې د اسلامي ملکونو د يو داسې تنظيم جوړولو مشوره ورکړه چې هغه د اسلامي دنيا دفاع او ترقي په موثره توګه کولے شي. نادرخان په سختئ د دۀ دغه تجويز رد کړو[51]. فضل محمود مخفي صېب خفه زهير د کابله کامې ننګرهار ته راغے، چرته چې د ے د ولي الله محمد صاحبزاده سره يو شو.[52]

د نومبر په اتمه کال 1933 مخفي صېب پېښور ته راغے او په کال 1934 کښې د خپلې ګرفتارئ پورې د سياسي مشرانو سره په رابطه کښې ؤ[53]. د راخلاصېدو نه وروستو مولانا د خپل ورارۀ او زوم فاتح الرحمان سره په دېرشتم د مارچ 1936 کښې د هندوستان په لور لاړو. دغلته دۀ د مولانا عزيرګل (اسير مالټا) د دارالعلوم روکړي د مهتمم، مولانا حسين احمد مدني او مولانا کفايت الله سره اوږدۀ اوږدۀ ملاقاتونه وکړۀ. د مولانا آزاد سره ئې هم په کلکته کښې وليدل. د حبيب الرحمان سره په ډاکه او د عبدالکريم سره ئې په حبيب ګنج کښې ملاقات وکړو. د دوي د ملاقاتونو لوئے عنوان آزادي وه. درې هفتې ئې د خپل ورارۀ صديق سره په آګره کښې تېرې کړې. په واپسئ کښې ئې په خپل کلي مانوګي کښې اوسېدل شروع کړۀ. کوم چې د هندوستاني جلا وطنو يو مرکز ګرځېدلے ؤ. د تعليم د عام کولو او د سياسي بېدارئ پېدا کولو دپاره هغۀ خپل جنګ جاري وساتلو[54] دغلته دے په مانوګي ملا مشهور ؤ[55].

مخفي صېب په دې خبره رسېدلے ؤ چې آل انډيا کانګرس د پښتنو په وينه سودا کوي، په دغه ترس کښې دۀ د باچا خان او د نورو سياسي مشرانو سره اوږدۀ ملاقاتونه وکړۀ او په نيتجه کښې يو مسلح تنظيم د "ځلمي پښتون" په نوم جوړ کړے شو چې د آزادئ د حصول دپاره طاقت هم پکارولے شي. مخفي صېب پښتون ځلمے په خپل يو شعر کښې داسې ستائي:

په رښتيا پښتون ځلمے يم
کار مې ننګ او د پښتو وي [56]

بهر حال باچا خان او نورو مشرانو لا تر اوسه په کانګرس اعتماد کولو [57].

مخفي صېب د خپل ځوان ځلمي زوي فضل معبود په مرګ سخت ذهني پرېشانه شو او د دې سره سره هغه د خپلو ملګرو په رويه هم ډېر پرېشانه ؤ، د دې نه وروستو هغه په کال 1949 کښې دير ته لاړو [58].

**په علمي مېدان کښې خدمات:** په خپل يو شعر کښې مخفي صېب د تعليم متعلق خپله نظريه څۀ په دې ډول بيانوي:

علم د انسان د فوقيت دے يو محکم نشان
دا صفت جهاد سره ډېر لوئے مناسبت لري [59]

د هند نه په واپسۍ مخفي صېب په دارالعلوم ګدر مردان کښې مدرس واخستے شو [60]. په ډېر مختصر وخت کښې دۀ قابل اعتماده علماء پېدا کړۀ. دوي د پېرنګي حکومت خلاف په پښتنو کښې پروپېګنډه وکړه. د کال 1915 د جلا وطنۍ په زمانه کښې دۀ د مومند ايجنسۍ په غازي آباد کښې يوه مدرسه خلاصه کړه او پکښې ئې په خپله د مدرس په حېث خدمت وکړو [61]. د امير امان الله په دور حکومت کښې دے په استقلال لېسه کابل کښې مدرس شو [62].

د مخفي صېب متعلق رپورټ دا ؤ چې دے په خال دير يا چرته بل ځائے کښې د پېرنګي خلاف کار کوي [63]. په خال دير کښې د دغه مدرسې تعلق د باچا خان سره ښودلے شوے ؤ. په لږ وخت کښې د طالبانو تعداد څلورو سوو (400) ته رسېدلے ؤ. د ملاکنډ پولټيکل ايجنټ د پښتنو د بېدارۍ خلاف ؤ. هغۀ د دير نواب راوغوښت او ورته ئې واضحه کړه چې تعليم د وړاندې نه ډېرې مسئلې د پېرنګي حکومت دپاره پېدا کړې دي. دۀ له هرګز د داسې سرګرمو اجازت ورکول نۀ دي پکار کوم چې د دۀ دپاره هم مسئلې پېدا کولې شي. دغه سکول به ورانول غواړي. د دغه ملاقات نه په واپسۍ نواب دير د دغه سکول د ورانولو حکم وکړو [64].

په کال 1935 کښې مخفي صېب د آزاد سکول اتمانزۍ په استاذانو کښې شامل شو [65]. دۀ د مومندو او باجوړ په علاقو کښې هم سکولونه جوړ کړۀ او د دغه سکولونو معائنې له به تلو راتلو [66]. د څۀ وخت دپاره دے د انډين ټېکسټ بورډ ممبر ؤ.

يو وار چې کله دۀ د کورس په حقله لکه د نورو ممبرانو د خپل خيال اظهار په انګرېزۍ کښې وکړو، د بورډ ډائرېکټر حافظ عبدالمجيد او ډپټي ډائرېکټر شاه عالم خان حېران شو. د حکومت د تپوس نه بغېر دوي د حکومت هند د طرفه دۀ له د ډيلي يونيورسټۍ د شپاړسم (M.A) د اعزازي سند منظوري ورکړه خو مخفي صېب دغه اعزازي سند قبول نۀ کړو [67].

په کال 1947 د نواب دير د سکول مخفي صېب هېډ ماسټر ؤ [68].

**ادبي خدمات:** د پښتنو په هاغه باچاهانو او مشرانو کښې باچا خان په مخفي صېب پسې دے، څوک چې د ادب او ژبې په اهميت پوهېدو. باچا خان په دغه لوري عملي قدم پورته کړے دے. امير امان الله خان پښتون ؤ خو پښتو ئې وئيلې نۀ شوه. دۀ د باچا خان په وېنا د پښتو زدکړه شروع کړې وه [69]. د خلقو د قومي جذبې د راپارولو دپاره باچا خان په آزادو سکولونو کښې مشاعرې او

ډرامې منعقد کړې دي. د انقلابي شاعر په حېث دهٔ د مخفي صېب صفت کړے دے چا چې په پښتو شاعرۍ کښې نوے انقلابي رجحان پېدا کړو. هغهٔ په پښتو شاعرۍ کښې د تقليدي استعاراتو، تشبيهاتو، د محبوب د کړو وړو او د ګل او د بلبل په ځائے د قوميت، حب الوطنۍ او طبقاتي جنګ خيالات معرفي کړهٔ. باچا خان دے په خپل سوانح حيات کښې د پښتو شېکسپيئر بللے دے(70). دا خطاب د يو جذباتي ملګري اظهار نهٔ دے، بلکې دا د سړو مازغو د خاوند او اعتدال پسند باچا خان وېنا ده. د ازادۍ يو بل لوئے مبارز او ادبي شخصيت ښاغلے سعادت خان جلبل د دهٔ د ادبي حېثيت متعلق وائي "دا حقيقت نهٔ بيانول به بې انصافي وي چې مخفي صېب او عبدالاکبرخان اکبر په (پښتو) شاعرۍ کښې د انقلابي او سياسي رجحان موجدان وو"(71).

عبدالاکبر خان اکبر په دې الفاظو د مخفي صېب صفت کوي: "مخفي صېب د انقلابي خيالاتو او په شاعرۍ کښې د قوم پرستۍ د خيال سړے ؤ، هغهٔ ما له د شاعرۍ د مقصد، قوم پرستۍ د احساس د ډک نظم تعليم راکړے ؤ. د دغه وخته په شاعرۍ کښې بدلون راغے کومه چې مخکښې د عشق و محبت د وارداتو د اظهار يوه ذريعه ګڼلې شوه. د مخفي صېب ملګرتيا زما په خيالاتو کښې يو انقلاب راوستلو(72).

د آزادۍ د يو بل رهنما او مشهور فلسفي خدائے بخښلي عبدالغني خان په خيال خوشحال خان خټک اولنے شاعر ؤ، دهٔ د مغلو خلاف پښتنو له د يووالي تعليم ورکړو. په شلمه پېړۍ کښې مخفي صېب په هاغه شاعرانو کښې د سر سړے ؤ چا چې پښتنو له د قوميت، اتحاد او آزادۍ تعليم ورکړو. دهٔ د ښځينه حسن تکليف نهٔ ؤ پورته کړے(73).

د ريسرچ سکالر زلمي هېواد مل په خيال "مخفي صېب په شاعرۍ کښې د خپل خاص انداز خاوند دے. په نثر کښې هغه مذهبي معاملې څېړلې دي خو په نظم کښې د هغهٔ انداز بيان شاعرانه او اسان دے(74)" همېش خليل ئې د قومي شاعرۍ يو آزاد سنګ ميل مني(75).

روسي ليکوال ښاغلي جي-ايف ګئير وائي چې مخفي صېب هاغه اولنے شاعر دے چا چې په شاعرۍ کښې نوے رجحان او روايت قائم کړو(76).

د سياسي او ادبي پوهانو د رايو نه دا حقيقت راوځي چې مخفي صېب په شاعرۍ کښې د نوي رجحان او قوميت منادي ؤ.

د صحافت په مېدان کښې ئې د ورځپاڼې انيس دپاره د انګرېزۍ نه د پښتو ژباړې کار کوو(77)، هغه د اتحاد مشرقي جلال آباد دپاره هم خپله وظيفه ترسره کړې(78). دهٔ د باچا خان د خپرونکې هفته وارې مجلې "پښتون" سره هم د خپل ليک مرسته کړې ده او انجمن اصلاح افاغنه په غونډو کښې به ئې نظمونه اورول، انعامونه به ئې پرې اخستل(79). د پرېس مراسله نګار په حېث مخفي صېب د مولانا آزاد د "الهلال" دپاره د جهاد متعلق رپورټونه لېږل(80). د بده مرغه د دهٔ جوړ کړو اشعارو مجموعې په لاس نهٔ راځي. د صديق الله رښتين وېنا ده چې د ترنګزو حاجي صېب د زوي فضل شاه باچا او د کاګين د مولوي صېب سره د مخفي د دېوان کاپياني دي. دهٔ د تصوف نه ډک شعرونه هم ليکلي دي(81).

سليم ليکي چې دهٔ د مزاحيه شاعرۍ يو کتاب د منږک نامه په نوم هم ليکلے ؤ، د پښتو نه علاوه

ئې پـه انګرېـزۍ کښــې هـم شـاعري کـړې وه خـو د پېرنګي نه د نفرت په سبب ئې هغه ضائع کړې وه. د امير امان الله خان په اخري دور کښې د دۀ د شعرونو کاپيانې ضائع شوې دي[82]. د خان عبدالولي خان د وېنا مطابق کله چې پېرنګيانو د مخفي صېب د کور محاصره وکړه نـو د دۀ رشـته دارو د دۀ ليکـل ختم کړۀ[83].

د خوش قسمتۍ نه د مخفي صېب څۀ نظمونه په مختلفو مجلو کښې شائع شوي وو او يـا ځينې خلقو ته په يادو ياد وو او هم دغه د مخفي صېب د خيالاتو او د ژوند متعلق د نظرياتو پاتې خزانه ده.

مخفي صېب په نثر کښې د مضـامينو ليکلو سره سره پـه مذهب، تصوف او فلسفه وغېره ليکل کړي دي. دغـه قسـمه ځينـې مضـامين پـه مختلفـو رسالو کښې چاپ دي، د نېکه مرغه د مخفي صېب د نثر درې مسودې د راقم الحروف په ذاتي کتابتون کښې محفوظې دي.

## حوالې او ځينې شرحې:

43. File #8-Head XXVI Dir Affairs & Office of the Political Agent Malakand- Malakand
44. ايضاً
45. ايضاً
46. عبدالغفار ص- 339، 351
47.
48. احمـد کاکـا، خـدائي خـدمتګار تحريـک، (کابـل قبائلي مسئلې افغانستان کال 1369 هـ ش) ص 122
49. د مخفـي خپـل خط (سـخا کـوټ، شـلمان کتـابتون ملاکنډ ايجنسي)
50. پښتو- مياشتنۍ مې جون 1981، ص 99.
51. د فاتح الرحمان انټرويو.
52. کابل- مياشتنۍ اسد 15 کال 1356 هـ ش (صديق الله رښتين) ص 12.
53. محمـد شـفيع صـابر، شخصـيات سـرحد (پشـاور يونيورسټي بک ايجنسي خېبربازار) ص 262.
54. فاتح الرحمن انټرويو.
55. پښتو- مياشتنۍ مې جون 1981 ص 101.
56. آواز- مياشـتنۍ نمبر: (افغانسـتان کـال 1357) ص 32.
57. عبدالغفار ص 595، 733.
58. پښتو- مياشتنۍ مې جون 1981 ص 100.
59. همېش خليل، پښتانۀ ليکوال- دوېم چاپ (پېښـور پبلک آرټ پرېس کال 1961) ص 28.
60. محمد ولي زلمے ص 263.
61. عبدالاکبر خان اکبر ص 10، 204، 205.
62. آواز، مياشتنۍ نمبر 17 (افغانستان 1357هـ ش) ص 32.
63. Who's Who P # 15
64. عبدالغفار ص 179.
65. عبدالاکبر خان اکبر ص 10
66. ايضاً ص 10.
67. فاتح الرحمان انټرويو.
68. پښتو، مياشتنۍ مې جون 1981، ص 100.
69. عبدالغفار ص 176.
70. ايضاً ص 65.
71. عبـدالاکبر خـان اکبـر، خـوارۀ تراخـۀ (پېښـور- يونيورسټي بک ايجنسي خېبر بازار، 1958).
72. عبدالاکبر خان ص 9، 50.
73. د عبدالغني خان سره انټرويو.
74. زلمے هېواد مل- د پښتو نثر اتۀ سوه کالـه- (لاهور- ملت پرنټرز 1375هـ ش) ص 752.
75. همېش خليل – اول چاپ ص 25.
76. جي ايف ګـيرز- د مهراني اولس ادبيـات (محمـد اکبر- معتمد شنوارے) کابل قومونو قبائلي منسټري افغانستان 1364 هـ ش ص 79.
77. کابل مياشتنۍ نمبر 6 اسد 15- 1356 هـ ش) ص 32.
78. آواز- مياشتنۍ نمبر 17 (نصرالله حافظ) کال 1357 هـ ش ص 9.
79. عبـدالخالق خليـق- د آزادۍ جنـګ (پېښـور ادارۀ اشاعت سرحد-1978) ص 42.
80. پښتو- مياشتنۍ مې جون 1981، ص 94.
81. کابل- مياشتنۍ د پښتون اديب مېګ نمبر 6- اسد 15 – 1326 هـ ش، ص 8، 10.

82. پښتو- میاشتنۍ مۍ جون 1981، ص 99.
83. د فاتح الرحمان سره انټرویو.